مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ګل جان صابر ۲۰۲۱/۱۱/۲۶

# نیکه او لمسی

په ډېرو پخوا وختونو کې چې خلکو ډېر اوږد ژوند کاوه ګڼ ځنګل ته نږدې په یوه کلي کې بېوزله کورنۍ- نیکه، پلار او لمسی ، اوسیدله. د نیکه عمر تر سلو کلونو ډېر و. هغه سره له دې چې سپین ږیرۍ او کمزورۍ و خو ډېر وخت به یې خپل زوی او لمسي ته د جګړو، سفرونو او د خپل اوږده ژوند د نورو پېښو کیسې کولې. هغه به کله کله حیرانونکې رښتینې کیسې هم کولې. نیکه به چې کیسې کولې لمسي به نور هر څه هېرول او ده ته به یې غوږ نیولې و. پلار له دې څخه نه و خوشاله چې نیکه ساتي، تل یې دا فکر کاوه چې په څه ډول له هغه څخه ځان خلاص کړي. یوه ورځ پلار خپل زوی ته وویل:

- زه په ورځ کې یوازې یوه پیسه ګټم، د هغې نیمایي ستا په نیکه لګیږي او له هغه څخه موږ ته هېڅ لاسته نه راځي. راځه سبا به هغه وتړو، د ګڼ ځنګل منځ ته به یې یوسو او هملته به یې پرېږدو.

هلک له خپل پلار سره سر و خوځاوه او ویې ویل:

- ښه ده، پلاره.

سبا سهار یې سپین ږیری وتړلو، ګڼ ځنګل ته یې یووړ، همله یې پرېښود او دوی ځنې راروان شول.

دوی چې لږ راغلل زوی یو ناځاپه پلار ته وویل:

- پلاره! ته دلته ودرېږه زه ورځم چې پړی راوړم.

پلار په حیرانتیا وویل:

- ته پړی څه کوې؟

هلک ځواب ورکړ:

- پړی ما ته په کارېږي. کله چې ته سپین ږیری شې زه به تا په هغه ترم او ځنګل ته به د ورم، داسې لکه تا چې نیکه یووړ.

پلار وویل:

- زوی جانه، زه ډېر وشرمېدم. راځه چې ژر بېر ته ورشو او ستا نیکه بېرته راولو.
هغوی په بیړه نیکه ته ورغلل او هغه یې بېرته راوست. وروسته له هغې ورځې هېڅ هېڅکله هغه په سپین ږیریتوب نه ملامتاوه.

د پلیپین د خلکو کیسه
ژباړونکی: ګل جان صابر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ